لله الحمد په حزب کي داسي شي نشته ! زه مطمئن یم او په دي سره نه مبالغه کول غواړم اونه هم دورونو دوکه مي اراده ده . زه په حزب کي دانه محسوسوم او گورم چي څوك هم دي کارته لاس اچوي دحزب په داخل کي له ردالعمل اوعکس العمل سره مخامخ کیږي، په حزب کي خلك دهغه دي تحریك ته لبیك نه وايي او دهغه په نسبت بي اعتماد ختمیږي . راځي په دغسي کسانو بالکل مجال تنگ کړو . چي هغه محسوس کړي چي ددي کارپه نسبت به دهرچا تندي دهغه په مقابل کي ترپوري اوهیڅوك پدي ناروا او ناجائزاو خائنانه کارکي دهغه ملاتړاوملگرتیا نه کوي راځي دغسي احساس په داخل دحزب کي راپیدا کړو.

ورڼو ! مونږبه په داخل دحزب کي دحزب داصولو اوضوابطو مراعات کوو، دادقرداودنو او دتعهداتو او دمیثاق ودپیمان حیثیت لري چي دهغه مراعات زمونږشرعي اودیني وجیبه ده . داټول لوایح اومقررات ، اساسا تواوضوابط چي په حزب کي وضع شوي مونږ دهغه په نسبت تعهدکړي او چي کله هم دتعهد پاڼه موامضاءکړي هلته مو په همدي خبري تعهدکړي چي ددغو ضوابطو اومقرراتو مراعات به کوو، حقیقت دادي ، کوم حزب چي خپل افراد اداره نکړاي شي اومقررات اوضوابط ونلري یاپه هغه کي دمقرراتو اوضوابطو مراعات ونشي . هغه نه دسترو اهدافو دترلاسه کولو امکان موندلاي شي ، نه دولس خدمت کولاي شي ، نه یوقوم رهبري کولاي شي ، نه داسلامي حکومت دجوړولو کفایت اواهلیت ترلاسه کولاي شي . کوم حزب چي دخپل ولس اوملت خدمت ونشي کولاي ، دخیانتونو مخه ونشي نیولاي ، دبدنظمي او اداري فساد مخنیوي ونشي کولاي ، بهتره داده چي داسي یوتنظیم دي دحکومت دجوړولو شوق نه کوي . هغه هیڅکله حکومت نشي جوړولاي . هغه دي اهلیت اوکفایت نلري چي ملك اداره کړي اواسلام حاکم کړي اویوه اسلامي ټولنه اواجتماع جوړه کړي بهتره داده چي داسي یوټولگي دي دحکومت دجوړولو دشوق او ذوق په ځاي ددعوت په کاراکتفا وکړي . هغه دي دځان جوړولو کوشش وکړي ، دالله (ج) سنت دادي چي قدرت اوواکي به اصلح ته سپاري ، ترټولوغوره او بهتره ته به یي سپاري . هغه چي دعملي لحاظه ، تنظیمي اوفکري لحاظه اواخلاقي لحاظه ترټولو غوره اوبهتره وي . الله به هغه ته دتمکین موقع ورکوي اودځمکي وراثت ، امامت او خلافت به هغوي ته سپاري ، داالله (ج) سنت دي

زما ورونو ! تاسو خبریاست چي دحزب مرکزي شورا په خپلي وروستي غونډي کي ددي فیصله وکړه چي زمونږ موجوده مرکزي شورا ناقصه اوبایه بهتره اصطلاح دحزب دموجوده وسعت او پراخوالي سره مناسبه نده .

باید ددي لمنه خوره اوپراخه شي ، بایدحزب یوه لویه شوراولري چي دحزب دټول قوت ترجماني ، نمایندگي اوتمثیل وکولاي شي . داسي یوه شوراچي نه یوازي دهرولایت نمایندگان دي په هغه کي عضویت ولري بلکي حتي دهري ولسوالي او علاقه داري نمایندگان دي په هغه کي عضویت ولري . فیصله شوي چي په شپږو راتلونکو میاشتو کي به داانتخابات تکمیلیږي . په دي موده کي بایددحزب ارکان او اعضاء ، هغه چي دراپي ورکولو حق لري تثبیت شي ، عضو هغه څوك دي چي شپږکاله په حزب کي پاتي شوي وي . رکن هغه څوك دي چي لس کاله دسابقي له لحاظه په حزب کي پاتي شوي وي . دتحریك سره یي تعهدکړي ، دااعضا اوارکان باید تثبیت شي . متاسفانه مونږ مخکي انتخاباتو کي ونشوتوانیدلاي چي دحزب ټول ارکان او اعضا تثبیت کړو او حینو ولایتونوته رسیده گي ونشوه .

هلته دارکانو او اعضا وو دتثبیت کاروځنډید او دځینو منطقو دورونو سره شکایت او اعتراض وو ، ددي شکایت دواضح کولو لپاره مونږ تدابیرونیول ، فورمي جوړي شوي او دااعلان وشو چي هر څوك ځان محروم گڼي باید دتخطیط اوتنظیم ریاست ته مراجعه وکړي ، فورمه ډکه کړي ، دهغه حزبي حیثیت باید درکن او دعضوي په حیث تثبیت شي .

امیددي چي داځل مونږ ونوانیدلاي شو چي داخلا ډکه کړو دانقص رفع کړو ، داکمبودي ډکه کړو منتفي کړو او دحزب ټول ارکان او اعضاء په دي انتخاباتو کي برخه واخلي. احتمال لري په دغو انتخاباتوکي له اتولکونه ترپوملیون کسانو پوري برخه واخلي . لکه چي په کنړکي تاسو ولیدل حزب پنځه دیرش زره رایي درلودي ، سره لدي چي ځیني منطقي محرومي شوي وي ، سره لدي چي په هغه کي مشکلات وو او دټول ولس نه تپوس ندي شوي . دحزب رول اونفوذ په نورو ولایاتو کي هم که تردي نه بهتره نه وي نو تردي نه کم ندي ، تخمیناً شایددغه ریکارډ حزب په نورو ولایتونوکي هم ولري ، حداوسط ، په دي ترتیب تقریباً داتولکونه ترپوملیون کسانو به انشاء الله په دي راتلونکي راي گیري کي برخه اخلي اومونږ به دغسي یوه شورا لرو چي په هغه کي به دهري ولسوالي او دعلاقه داري منتخب نماینده عضویت اوغړیتوب لري، دحزب داساسنامي سره سم به پدي کي بوشمیرکسان چي دمنتخبوکسانو ترثلث نه به زیات نه وي هم دانتصابي غړیو په حیث ټاکل کیږي دادرونډکاردي . پدي حالاتوکي انتخابات ترسره کول له شکه پرته یوگران کاردي ، ولي حزب همدالار غوره کړي ده او دیوي اصولي اداري دجوړولو ترټولو غوره اوبهتره لارهمدغه ده ! تراوسه پوري حزب څلورځلي انتخابات ترسره کړي داپي پنځم ځل انتخابات دي . امیددي چي په دي کارکي ورونه له مونږسره مخلصانه مرسته وکړي . چاته چي کوم کارسپارل شوي یاسپارل کیږي له هغه نه پرهېز ونه کړي ، عذر او بهانه وړاندي نه کړي ، اوکه هرڅومره زحمت وي ، تکلیف اومشکلات لري ددي سره سره باید ددي کارلپاره چي دحزب اوټول انقلاب لپاره حیاتي اهمیت لري ، پدي کي به دحزب تعاون اومرسته کوي همداراز شاید ورونه خبروي چي حزب په عسکري اړخ کي هم دښمن ته دیواساسي او وروستي گوزارورکولو لپاره څه پروگرامونه لري اوددي لپاره ځان تیاروي ، پدي هکله له نوروتنظیمونو سره زمونږتفاهم روان دي ، ښو او مثبتو نتائجوته هم منتظر او امیدواره یو. زه گورم نورتنظیمونه هم له مونږ سره پدي کي برخه اخلي او په دي متفق دي ، تراوسه پوري آخري شکل ورته ندي ورکړ شوي . طبیعي ده ددي کاریه جریان کي شایدمونږ زیاتو امکاناتو ته ضرورت ولرو اوحزب باید ترکومه ځایه چي ممکن وي خپل امکانات همدي طرف ته متوجه کړي ، لدي لحاظه که څه مشکلات راپیدا کیدل امیددي چي زمونږ ټول ورونه به هغه مني . مثلاً که مونږ دي ته اړشو چي دمختلفو ریاستونووسایط هم ددغسي یولوي کار په جهت کي استخدام کړو امیددي چي ورونه شکوه اوشکایت ونکړي او که حتي پیاده پاتي کیدو او پیاده مزلونو ته اړکیږي دینه به تیاروي . مونږترپیروکلونو دالوي اوسترحزب چي جهادیي پیل کړیدي اوبوامیدوار کننده مرحلي ته هم رسیدلي وو وسائط قطعاً نه درلودل جبهاتوکي خولاپریږده حتي په دفترونو کي مونه درلودل او څه ریکشا گانو کي به مونږ راتگ کولو.

پیاده مزلونه به موکول زخمیان به موهم په شاراوړل اووسائل به اوږواتحقالیدل . که په مونږباندي همداسي یوحالت هم راځي ورونه به دینه تیاروي او ریاستونه هم اوماموریں هم باید ذهناً اوعملاً دي خبري ته تیاروي ، کومه وظیفه چي ورته ورکول کیدله په اخلاص سره به دهغه لپاره ځان چمتوکوي .

پدي ورځو کي پس له هغه چي حزب دوحدت لپاره یوځل بیا نوي ابتکار په لاس کي ونیولو ، دتنظیمونو سره تفاهم شروع شو، بیل بیل او په گډه ، ددغه ناستو پاڅواو تفاهماتو نه په بهیرکي ځیني افواهات خواره شوي ، امید دي چي ورونه پدي افواهاتو باندي زیات حساب ونکړي اوپخپله دهغو دخورولو وسیله هم نشي . مونږښونتائجوته هم امید واره یو. فضا داسي ده چي په هرچاکي امیدواري راپیداکیږي . خو تراوسه پوري کومه فیصله نده شوي ، فیصلو ته نږدي یو او دهغه په نسبت امیدواري هم لرو. اماتراوسه پوري قوي فیصله نده شوي . باید رسمي اعلان ته انتظارویاسو او پدي موده کي له دغسي کارنه په کلکه ډډه وکړو چي دتفاهم دغي فضاته صدمه رسوي اودشکوکو، شبهاتو باعث گرځي او دوحدت مانع گرځي ، به تبصرو اوتحلیلونوکي هم ، په

**داچي دوه سره بيلوي - داډيرآسان دي . داچي ددوو ترمنځ نفرت - كينه اوبدبيني راپيدا كوي دا ډيرآسان كاردي دا دبي همتو خلكوكاردي - دسپكوذليلو خلكوكاردي .**
**راځي مونږ زړونه سره نږدي كړو اوپه ورونوكي يووالي وروړگلوي اومحبت راپيداكړو . په حزب كي به دپلو ټپلو دجوړولوپه كلكه مقابله كوو.**

نوشتوکي هم، داختیارونو له لاري نه هم باید ددغسي اقداماتونه ډډه وکړي. کوښښ وکړو چي داوحدت عملیه تشویق کړو ، تاییدیي کړو او دهغه ترشاودریږو، دهغه په نفعه تبلیغات وکړو.

شاید ځیني وارخطاوي ، څوك چي خپلي گټي په اختلافاتوکي لټوي اووحدت مخصوصاً دمونږ او احزابو ترمنځ ، یووالي او وحدت خپل سیاسي موقعیت نه خطرکي ، هغه به خامخا مضطرب او پریشانه وي ، هغه به لاس پښي وهي چي دافضا ختمه کړي . احتمال لري چي پدي موده کي تاسي شکنځلي هم واوري دهمداسي وارخطا خلکونه ، دستیز او منبر به سرخو پریږده شاید درادیوگانو له لاري نه هم سپکي ، بدي ردي واوري ، داخلك معذور وګڼي او څکه چي هغوي وارخطادي او بهتره داده چي دهغوي شکنځلي او بدوردونه ځواب ونه وايو . بس غوږکوڼ واچوي ، لکه هیڅ چي مونه وي اوریدلي او پریږدي هغه به پخپله متوجه کیږي انشاء الله .

زما عرض دادي چي مونږ داکار جدي او په اخلاص سره تعقیبوو . حزب ددي لپاره ملاتړلي او انشاء الله که پیرڅه ونشو کولاي ، حداقل هغه کار چي ممکن اومیسردي نوهغه نه پیر امید وارپو ، لوپولوپو کارونو نه هم امیدواریو زه فضا پیره سازگاره گنم او دآینده په نسبت هم امیدواري لرم .

اوحزب ددي لپاره ملاتړلي نو په دي سیاسي مجال کي هم یوبل ابتکار وکړو زه ددي لپاره نه چي فخر فروشي وکړم ، بلکي دواقعیت په حیث داویلي شم ، ترننه پوري چي په عسکري بعدکي یاپه سیاسي بعدکي یادیووالي اووحدت په جهت کي چي کوم پیشرفت شوي ، کوم موثر قدم اوچت شوي نوددي ابتکار حزب کړي او پدي لاره کي حزب ایثار کړي، خودگذري یي کړي اوتنازل یي کړي ، نوروته یي امتیازات ورکړي اودهمدغه ایثار او خودگذري اوتنازل په وجه توانیدلي چي موثرقدمونه دجهاد اوداسلام په نفعه اوچت کړي . اوس به دي دواړو اړخونوکي عسکري بعدکي ، دښمن ته دیواساسي اووروستي گوزارلپاره حزب یوازي هم آماده گي نیولي او دنورورسره هم تفاهم روان دي ، که نورمرسته اوملگرتیا ونکړي نو حزب به پخپله هم اقدام کوي. ددي لپاره چي دنوروشکوك او شبهات رفع شي اوداویره ورسره نه وي چي حزب غواړي یوازي قدرت ترلاسه کړي ، بلکي هغوي باید مطمئن شي چي حزب دجنگ له لاري اویه زورسره قدرت ترلاسه کول نه غواړي . مونږ غواړو داملحدرژیم نسکورشي اویوصالح اسلامي حکومت دهغه ځاي ونیسي ، دانتخاباتو له لاري ، دولس رایي ته دمراجعي له لاري راتلونکي حکومت جوړکړي ، ددغه کارلپاره سازگار او مناسب شرائط برابرشي . حزب به یوازي هم دي کارته اقدام کوي ، ددي شرائطو په نسبت بي تفاوته اوبي اعتناشي پاتي کیداي ، هغه به ابتکار کوي. خو له نورو تنظیمونو سره هم په دي باب هغه تفاهم نه ، نشریك مساعي نه مشترکو عملیاتو نه تیاردي . مونږ هغوي نه پیشنهاد کړي چي دیوه مشترك عملیات لپاره دي یومشترك نظامي کمیسیون جوړشي بیا دي هغه نه اختیارات ورکړل شي چي پلان ترتیب کړي او قوتونه سوق او اداره کړي. پدي څمره توافق وکړي چي دکابل رژیم نسکوریږي نو یومتفق علیه اداره دهغه ځاي ونیسي چي نیولونه ومنلو وړوي . دانتخاباتو کاردي شروع شي ، دانتخاباتو کمیسیو ن ته دي اختیارات ورکړي شي ، هغه دي عملاً دمحلي شوراگانو دجوړولو کارشروع کړي .

ولسوالیو او علاقه داریو نه دي هیئاتو ته ولیږي . بیا دي هلته محلي شوراگاني دي جوړي کړي ، هغه محلي شوراگاني دي ، دنمایندگانوتعین په هکله وروستي فیصله وکړي ، له هري لاري نه چي هغوي نماینده گان انتخابوي . په منطقه کي انتخابات کوي په خپله یي معرفي کوي ، دي محلي شوراگانو ته دي اختیارات حاصل وي . بیادي هغوي دهري ولسوالي یو یاڅو نمایندگان معرفي کړي ، مرکزي شورادي جوړه شي دادي دملك لپاره اساسي قانون ترتیب کړي اوراتلونکي حکومت دي جوړکړي . که راکار وځنډیدو ، په دوودریو میاشتوکي مونږونشو توانیداي چي داکارتکمیل کړو ، دکابل رژیم تردي نه دمخه نسکورشو ، ددغي مرحلي لپاره باید په یوي اداري توافق شوي وي . که توافق گران وي نو کیداي شي چي فیصله وکړو دادتنظیمونو مشران دي ، هلته چي دکابل رژیم نسکورشي دراتلونکي حکومت په هکله په همغه وخت کي تصمیم ونیسي که داهم نشي کیداي ، نوراځي په دي خبري باندي توافق وکړو چي دکابل ، شااوخوا له قوماندانانو دي یوه مشترکه شوراجوړه شي ، دغه مشترکه شورابه دکابل چاري سنبالوي ، بیا په شپږو میاشتوکي انتخابات کیږي اویومنتخب حکومت به جوړیږي ، دغسي اداري او شوروگاني دي دقوماندانانو دپلو ولایتونو په سطح جوړي شي . په دي باندي بحث اومناقشه روانه ده . امیددي چي مونږمثبتو نتائجو ته ورسیږو .

ماسره همدامطالب وو . ورونو نه له الله نه توفیق غواړم ، خداي دي وکړي چي مونږ ونوانیدلاي شو چي یوه داسي صالحه اداره جوړه کړو چي هغه زمونږ دامظلوم ، زیږیدلي کړیدلي قوم دخداي طرف نه رهنمائي اوهدایت کړي، ملك دهغه په لاس آزادشي او په افغانستان کي یوصالح اسلامي حکومت دهغه په لاس قائم شي .

## پالیسی

افغانستان بي تفاوت مانده نمیتواند نتیجه عملي این سرمایه گذاریها یکي هم انعقاد دوسیمینار درارتباط به جهاد افغانستان ازطرف وزارت خارجه ایران بودکه درآن جمعي اززعما ، فرماندهان ، روشنفکران واراکین بلندپایه تنظیم هاي مستقردر پشاور وتهران دعوت شده بودند، بر گذاري این سیمینار ها نوعي ازنمایش قدرت ونفوذ دولت ایران درقضیه افغانستان بود ومطالب که دراین دوسیمینار به بحث گذاشته شده ، بیشتر صبغه تشریفاتي وستراتیژیك داشت .

باسفرآقاي رفسنجاني به روسیه وعادي شدن روابط تهران وماسکو، موضع ایران درقبال مجاهدین افغان وارد مرحله حساسي شد، مقامات ایراني نمیدانستند که میان روسیه کمونیست وافغانستان اسلامي کدامیك را انتخاب کنند؟ روسیه باقدرت بزرگ نظامي واقتصادي اش حلال نیازمندیهاي جنگي واقتصادي ایران بود ، مگر اینسومجاهدین مسلمان براي کسب آزادي وپیروزي انقلاب اسلامي درافغانستان ، باعساکر سرخ و ایادي آن ها مصروف پیکاربودند . اگر جانب روسیه رامحکم گرفته وبه تعهدات ماسکوجامه عمل مي پوشاند، درحقیقت با آرمان مجاهدین افغان وشعارهاي بلندپروازانه خویش جفا کرده بودند واگر جانب مجاهدین مسلمان میگرفت ، مشکلات اقتصادي رژیم رابه شدت تهدید میکرد، بهر صورت درمیان گزینش ایندومصلحت ، ایراني ها راه اعتدال راپیش گرفته هم دست روسها رافشردند وهم بسوي افغان هاتبسم کردند .

باعادي شدن روابط ایران وروسیه ،ماسکو چنان تلقي کردکه گویا درقضیه افغانستان به پیروزي مهمي دست یافته وحداقل ائتلاف گروههاي مستقردرتهران دیگر ازشدت عمل خویش علیه رژیم کابل وروسیه کاسته ودرد سري براي پاکستان وائتلاف گروههاي مستقر درپشاور گردیده است وبر مبناي همین گمان بود که ورنتسوف درفعالیت هاي دیپلماتیك خودگروههاي سني وشیعه افغان رادریك ترازو وزن کرد وحتي با خوش بیني زاید الوصفي خواست تاباعطاي حق خودمختاري به مناطق هزاره جات مقاومت شیعیان علیه رژیم کابل راپایان بخشیده ونوعي از مصالحه میان ایشان ورژیم ایجاد کند .

- باقي دارد -

# دحزب په راتلونکوانتخاباتوکي به‌انشاءالله داتولکونه تریوملیون کسانوپوري برخه‌اخلي

دشمني ورځ دروان کال دوري مياشتي اولسمه نيته ، دامام محمدشيباني (رح) جامع جومات ، نصرت مينه ، پېښور ، شهادت:

درنولوسنللونكوا دادي دشهادت په دي گڼه كي دحزب اسلامي افغانستان داميرمجاهدورور حكمتيار دهغي عالمانه اولارښوونكي وينا بشپړ متن لولي چي دحزب دماموريېنو دمكلفيتونو اووجائبو اوجهادي ووسستيوجرياناتويه باب تفصيلي لارښوونې اومعلومات پكي وړاندي شوي.

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

زه مخكي تردي چي دحزب له ماموريېنو سره ځيني مهم مسائل چي

اوبندگي ځي داسي مصروف وي لكه چي عملاً خداي گوري ، داهغه داحسان مرحله ده . له اطاعت نه رالاندي مرحله داخيانت دي. دادخداي او پيامبر سره خيانت دي داصلاحيت چي چاته سپارلي شوي، يو امر، مامور اوقوماندان ته ، دايو امانت دي دولس امانت دي ، داجتماع امانت دي. كومه وظيفه چي چاته ورسپارلي شوي ، پادهغه دسرته دسولو ذمه يي وهلي پادهغي وظيفي دانجام تعهديي كړي،

> هغه ورونه چي پدي خاطردحزب دفيصلو مخالفت كوي اوپه بهر كي تبليغات كوي چي ثابت كړي صاحب دراي دي صاحب د نظردي اواستقلال لري اوجرئت لري ددي پروا نلري چي ځوك به له هغه نه تپوس وكړ ي- دابي باكي ده دابي ځايه جرئت دي . دانه داخلاص تقاضا اونه هم دا دصاحب رأي سره ښايي كه ځوك غواړي چي حزب منحيث الحزب پاتي شي اوپه حزب كي ديومتعهد فرد په حيث ژوندكول غواړي - له دغسي حركاتو، تبصرواوتحليلونونه ډډه كوي چي په حزب كي داختلافاتوباعث گرځي .

دهغوي له كارسره ارتباط لري عرض كړم. ددي مبارك آيت ترجمه وړاندي كوم الله (جل شانه) فرمائي :اي دايمان خاوندانو له خداي اوپيامبره سره خيانت مه كوي اوخپل امانتونه مه خيانت كوي. حال داچي پوهيږئ ، يعني دخيانت دارتكاب په وخت كي ښه پوهيږئ چي داله خداي اودهغه له پيامبرسره خيانت دي اوداخپل منځي امانتونه خيانت كول دي اوپه دي پوه شئ چي ستاسواموال اواولادفتنه ده، دازمويښې وسيله ماداچي دمال مينه اوداولاد محبت تاسو خيانت ته و نه هڅوي اوپه دي هم پوه شي چي ستاسو دنيكو عملونو ډيرسترپاداش اولوي اجردي د خداي په نزد. داسي نه چي خپل يونيك كاردخيانت په نتيجه كي بيهوده اوهدر كړي او دهغه لوي اجر اوپاداش نه محروم شي چي ددي نيك عمل په بدله كي يي خداي تاسوته دركوي.

تاسوچي هرقدم دخداي په لاركي اخلي دهغه په نزد دا سترپاداش اواجرلري . خوكيداي شي دااجر اوپاداش په دي خاطر له لاسه وركړي اوضايع كړي چي دمال په مينه كي اوداولاد دمحبت په وجه ، دخداي

داپوامانت دي. كوم امكان چي چاته سپارل كيږي ، دهغه شخصي نه دي، بلكي داجتماع په گنه اوپه خيرايه امانتداري سره تصرف داامانت دي . سراوراز ديوفرد ، دټولني ، ديوحزب داامانت دي ، دسرافشاكول خيانت دي ، كه دايو فرد رازوي ، كوم چي نه غواړي چي افشاشي نه يي په هغه امين نبولي بي. تاسره يي په هغه شريك كړي، نه غواړي چي هغه دي نوروته افشا شي . حتي تاته يي نه دي ويلي چي دامه افشاكوه . ولي له حالت نه يي داسي معلوميږي چي هغه ددي په افشا كيدو خفه كيږي . تاسره يوه خبره كوي، خويوطرف اوبل طرف ته گوري چي ځوك ورته خبرنشي . دهغه ددي كيفيت اوحالت نه معلوميږي چي هغه ددي خبري دافشانه ډډه كوي اونه غواړي چي بل ځوك دي ورته خبرشي ، داپوامانت دي. دهغه افشاكول داخيانت دي. په يوه اجتماع كي خاصه فيصله شوي، تعهد دادي چي دابه بهرته نه افشاكيږي .

داپوامانت دي. دهغه افشاء خيانت دي، داجتماع داخلي اسراردي چي نه غواړي بهرني خلك دي له هغه نه واقف وي. چي دايه تحريك كي ، په جنگ كي

> ورونوا موږ به په حزب كي ديووالي كوښښ كوو مينه او محبت به په صفونو كي راپيداكوو، دوروري اوداخوت فضابه راپيدا كوو ددي لپاره به په خپل ټول توان او طاقت كوشش كوو .ځوك چي په داخل دحزب كي كركه - نفرت - بدبيني - عداوت اودښمني راپيدا كوي - هغه دشيطان ملگري دي - هغه دحزب ستر دښمن دي .

اوپيامبر سره خيانت وكړي اوپه خپلومنځونوكي امانتونه خيانت كړي ايمان اوخيانت له يوبل سره نشي يوځاي كيداي . پيامبرعليه السلام فرمايي ځوك چي دامانت مراعات نكوي ، امين ندي ، ايمان نلري .

داسلام ځودرجي دي. لومړي دخداي اودپيامبر اطاعت . دوهم په دي اطاعت كي تقوا درلودل او احتياط كول اوله انحراف نه ځان ساتل اومحتاطانه حركت ، دادوهمه مرحله ده . يومجرداطاعت دي ، دضوابطو، داصولو ، دمقرراتو دوجائبو منځه پابندي اواطاعت دايوه مرحله ده ، خودوهمه مرحله يي داده چي انسان په دي كي پوره محتاط وي ، له انحراف نه ځان ساتي اوتقوا لري . دريمه مرحله يي داحسان ده ، داچي دخپل فرض ، مكلفيت اوواجب نه اوچت اويرانسان كار كوي. دمازديگر به ځلورركعتونو مكلف شوي . هغه داځلور ركعته په جماعت كوي او په پوره احتياط سره يي كوي ددي نه دمخه ځوتكل كوي. له خپل مكلفيت نه اضافه كار دا احسان دي ، پيامبر عليه السلام فرمايي : احسان دادي چي ته دخداي داسي عبادت وكړي لكه هغه چي گوري اوكه ته يي نه گوري نويه دي پوه شه چي هغه دي گوري .

چي كله انسان دخداي په عبادت

ستراهميت لري، پيامبرعليه السلام فرمائي : ديوحديث مفهوم دي چي : په دښمن باندي دخپل سرديت ساتلو په وجه پرهغه فتحه اوغلبه ترلاسه كړي يعني كه تاسي خپل سريت وساتلو اودښمن ونشو توانيداي چي ستا په جنگي اسرارومطلع شي، په دي ترتيب كولاي ئشي چي پرهغه فتحه اوغلبه حاصله كړي. دوودرگيرو طرفونو ترمنځ به هغه ناكام اوماتي به خوري چي دهغه اسرار برېښېږي اوافراديي داسراوويه ساتلو كي امانت نلري.

دښمن كولاي شي چي دهغه په صفونو كي نفوذ وكړي اودهغه له اسرارو نه ځان واقف كړي. په خپل صلاحيت كي، وظيفي كي، كوم امكانات چي تاته سپارل شوي، په خپلواجراٰتوكي چي ځوك دخداي اودهغه دپيامبر اطاعت نه كوي اوپه هغه كي رفاقتونه ، قرابتونه اورقابتونه پالي . درفاقت په بنياد، دقرابت په بنياد، دخپلوي په اساس اويا درقابتونو په اساس تصرف كوي اواجراٰت كوي ، هغه په دي ټولو امانتونوكي خيانت كړي ، په خپله وظيفه كي كوم صلاحيت چي هغه ته سپارل شوي اوكوم امكانات چي ده ته سپارل شوي .

موږدي حزب ته په ...ي خاطر راغلي يوچي له خداي سره مودي تعهدكړي

چي دهغه دلاري يومخلص داعي او مجاهدپه ووايوه خاصه وظيفه اوماموريت موهم په دي خاطرقبول كړي چي مونږتنظيم ، جماعت اوصف په دي مكلف كړي يوا! كه نه وي موږ دخپل الهي ماموريت دسرته رسولو لپاره ، دي صف ته راغلي يو.

موږ دالله دحزب غړي يو اودهغه دجندسپاهيان اوعسكر ، تعهد موله خداي سره دي اودخپل ديني اوشرعي فرض اداكولو لپاره چي دخداي په لاركي جهاد، داعلاي كلمة الله لپاره جهاد، امربالمعروف نهي عن المنكر ، دشراوفساد دقوتونومقابله اوپه ځمكه كي داالله ددين قايمول، دهغه كلمه لوړول ، ددي تعهدله خداي سره لرو ددي خاطر دي صف ته راغلي يو اودلته موتعهدكړي. دماموريتونو لپاره نه يوراغلي اودامتيازاتو ترلاسه كولو په خاطر نه يوراغلي

بلكي دقرباني جذبي اواحساس راوستي يو . موږماموريتونه اووظايف پريښي ، كور، كلي ، پټي موپريښي ، دامتيازاتو نه مولاس اخيستي اوامتيازاتونه مرشا كړي اودي صف ته راغلي يو. دي جذبي راوستي يوچي بس زموږ هرڅه دخداي دي، دابه دخداي په لاركي قرباني كوو او زموږ مال اونفس دجنت په بدل كي خداي له موږنه اخيستي دي .

نفسونه اومالونه يي دجنت په بدله كي ورنه اخيستي دغه تعهداوپيمان موږدي صف ته راوستي يو، ترڅوخپل مال اونفس دخداي په لاره كي وقف كړو، له الله سره به خپل تعهدوفاوكړو او داالله رضاترلاسه كړو اودجنت مستحق شو. موږبه پدي صف كي چي كله كوم ماموريت وسپارلي شي، كومه وظيفه راته وسپارلي شي، ديو مجرداجيرـ اومستخدم په حيث سارته گورو او زموږنوكره وړه بايد. يومجرد اجيراو مستخدم نه وړنه نه وي چي دمعاش په بدله كي استخدام شوي او اسانن جذبي اوخپل تعهدندي راوستي بلكي دمعاش په خاطر راغلي ، كاركوي ، پاداش اخلي. بلكي موږ به ديوداعي په حيث ، ديومجاهدپه حيث ، دخداي په وړاند ي ديومسئول بنده په حيث له الله سره بايدديو دغسي تعهدكوونكي په حيث چي خپل مال اونفس يي په هغه خرڅ كړي او غواړي په خپل تعهدوفاوكړي ، خپل داسترمسئوليت ترسره كړي ، پدي احساس سره به كاركوو اوبايدزموږ په حركاتوكي عملكرد كي ، سيما اوځيري كي ، په خپلو تصرفاتواواجراٰ تو كي ځرگندوي. هرځوك دامحسوس كړي چي داديو مستخدم اواجيرپه حيث كارنكوي. بلكي دلته يوداعي دي، يومجاهددي ، دفتردهغه لپاره يوسنگردي ، خوخداي دي نه كوي چي كه په دفتركي زموږنو عملكرد ديومستخدم اواجيرپه نسبت هم قابل دمقايسي نه وي، ترهغه نه ويربدوي اوهغه اجير اومستخدم دضوابطو او مقرراتو مراعات كوي خونه يي نه كوي هغه دوخت او حاضري مراعات كوي خونه يي نه كوي ! دابه ويرناسف خبره وي، دابه ډيره ديغور خبره وي. موږ دمعاش لپاره دي تنظيم ته نه يوراغلي ، لكه ځنگه چي په لاشځه كي ودريږو سهارخوب پريږدو اوبيا به رادرومو دلوڅخ اداكولو لپاره اودامكرر مشق كوو اوتكراره ووبي ، نو دفترته به هم دهمدي احساس سره ځو . دلته هم موږ له الله سره دعبادت تعهدلرو. په همدي هيله ديونده په حيث دخپل مسئوليت دسرته رسولو لپاره ، موږ دفترته ځو او يوماموريت اودنده موتبوله كړيده .

متاسفانه ځيني داسي دي چي كله هم په حزب كي يوكاريه غاړه واخلي نوهغه په مسلسل طورپه حزب اوپه غوريي منت باروي، داتوقع لري چي نوريه هميشه دهغه داحسان مرهون وي ، هغه به مكرريه خپلو پيشنهادونو كي داليكي چي بس هغه له حزب سره ډيرستراحسان كړي، چي نوري دروازي يي پريښي او حزب ته راغلي نوركارونه يي پريښي اوحزب ته راغلي نوري دلي يي پريښي اودحزب په ځنگ كي ودريدلي

مكرر به په خپلوتحليلونو اوتبصروكي اوليكنوكي يي همدامحسوسوي چي هغه

غواړي چي حزب دي دهغه داحسان مرهون وي چي حزب سره يي تعهدكړي ا ارمانصديني هم همداوي چي ددي په بدله كي هغه امتياز ترلاسه كړي مكرر بايدداخه ياده كړي چي حزب بايد دده دا...ن مرهون وي سابقه دار دي، ددوسره اوږدي مودي نه راپيخوايي له حزب سره تعهدكړي ، دااوهغه يي كړي او ددي او هغه ډولي پيشكش يي رد كړي، له هغه سره يي تكركړي.

خوپه دي خاطرچي حزب هغه ته امتيازوركړي. دايوه بيماري ده، دايو مصيبت دي، ځيني په دي بيما..دا خته دي. قرآن عظيم الشان دهمدغسي يوي ډلي نه حكايت كوي اوفرمائي :

په تاباندي منت باروي چي تسليم شوي ورته ووايه دخپل اسلام منت نويه ما باروي، بلكي الله به تاسوباندي منت باروي چي تاسو ته يي دايمان طرف ته دللوتوفيق دركړ.

تاسويي دايمان طرف ته هدايت كړي كه ريښتني ياست ، كه صادق ياست ، كه تاسو دخپل ايمان په دعوي كي صادق وي نو داالله دالوي احسان اومنت په مني چي تاسو ته يي توفيق دركړي چي دايمان لاره غوره كړي. زه هم همدغو ورونو ته همدغه وايم . كه په ريښتيا په خداي بانيدي دايمان په قدرپوه شي ، نو هميشه به داالله ددي پيرزوينې مرهون وي ، دابه دخداي ډيرستر احسان گڼي چي تاته يي ترفيق

> جماعت هلته جوړيداي شي چي هلته اميروي اوهلته بياطاعت وي . ځيني مغرور كسان چي ددي دعوا لري سابقه داردي اته ځلويستم كي اوياله هغه نه هم دمخه يي له حزب سره تعهد كړي ،خوهغه هميشه دبي نظمي باعث وي نوحزب كي چي ځوك اطاعت نكوي اوسركشي كوي دي يي موجب وي ، دغسي مغرور سابقه داران چي دبدنظمي باعث وي سركشي كوي - دنهضت ، دتحريك اودحزب په درد نخوري .

دركړچي دهغه په لاره كي جهادوكړي، په يو اسلامي صف كي تعهد وكړي ، ملبشه نشي، خلقي اوپرچمي نشي ، خپل ايمان اوجهاد په وسله‌ارتريك ارامتيازاتو خرڅ نكړي دا دخداي ډيره لويه پيرزوينه ده، ډير ستراحسان دي. نه بايد هميشه ددي ستراحسان مرهون وي

اودخداي دامنت بايدهميشه احساس كړي اودهغه مرهون وي .

ورونو ا هركارچي په دي صف كي موږته سپارل شوي ، دابه مقدس كڼو، دابه عادي نه شميرو، دهركارچي ځوك يي ترسره كوي خويه اخلاص سره ، دخداي په نزد كي دهغه ډيرستر قدراوقيمت دي. په كارخوداوه چي كه دحزب په يودفتركي ماته ديومستخدم كارواسپارل كيداي دمحدود معاش سره، دامايه يوغربي موسسه كي ، په يوخيريه موسسي كي ترډيرستركارنه چي ډيرامتيازات لري ډيرغوره اوبهتركڼلي واي .

ديوحديث مبارك مفهوم دي چي خوشحالي دي دهغه بنده په حالت وي چي دخپل آس قبضه يي كلكه نيولي او منتظر دي قوماندي ته ، هدايت نه چي هغه ته وظيفه وركړل شي، ويښتان يي مجعد ، لباس يي زوړ ، حالت يي هم همداسي چي كه دجاشفاعت اوسفارش كوي ځوك يي نه مني، كه غائب شي ځوك يي تپوس نه كوي، له سترگو لويدلي ، داچي ويښتان يي مجعددي، رمنځ يي نه ليدلي قدمونه يي گرد آلوددي، لباس يي زوړ له نظرنه لويدلي ، ځوك يي سفارش اوشفاعت نه مني، چي غائب شي ځوك يي تپوس نه كوي، خودخداي په نزد كي دا هومره قدر اوقيمت لري چي هغه كه په الله قسم يادكړي چي داكاربه داسي كيږي ، خداي به دي نه حانث كوي او هغه كاربه كوي .

دخداي په نزد كي بيا دهغه قدر او قيمت هومره دي. همغه چي ديو سپاهي په حيث تبارولاړدي . چي كه ماموريشي دلښكريه مقدمه كي كارترسره كړي

همله دروني ، خطر ته ځان اچوي اوكه دصف په پاي كي توظيف شي ، همله راضي دي خوشحاله دي خپل كاركوي . كه بهره دار شو همغه كارترسره كوي .

دغسي يوچاكاردخداي په نزد دومره ستراواوچت دي .

ورونوا زموږ دعوي خو داده چي دخداي لپاره كاركوو. داالله ددين دحاكمولولپاره موږملاتړلي ، دخداي په لاره كي موږجهادكوو او موږ دخداي دجند اودلشكرسپاهيان يو. دهغه دحزب دبرتراودغالب حزب غړي يو . هركارچي په دي سترصف كي موږته سپارل كيږي هغه بايدمقدس وشميرو، هغه كي بايداحساس دحقارت ونكړو. پريږدو داپاداش اويداله خداي نه چي زموږ په كړوړيږي په پاداش مرتب كړي ، موږ نه ځه اجراوكوي په دنيا او آخرت كي ، خداي به چاهلو نه كوي ، دجاحق نه تلف كوي ، ددنيا اوآخرت دپاداش زمه وارخداي دي ، هرنيك عمل دخداي په لاره كي دوه پاداشه لري ، دنيوي اجراو اُخروي . ددواړو زمه‌وار اوضامن خداي دي اوخداي په خپل بنده ظلم نه كوي ، دهغه حق نه تلف كوي، امكان نلري چي هغه دي ديومقام او پاداش مستحق وي اوورنه محروم دي پاتي شي . ددي امكان نشته ، دي هستي كي خداي حاكم دي ، دادهغه ملك دي دلته هرڅه دهغه په اراده كي دي . دلته په عملونو پاداش هغه مرتب كوي .

زماورونوا دمقام ، منزلت اوپاداش كوښش به نكوي كم له كمه له خلكونه به يي نه غواړي ، شعاربه مو همداوي چي (زما پاداش ندي مكر

دعالمونوپه رب باندي ) په همدي احساس سره راغلي يو ، پاداش له خداي نه غواړو . دخپل عمل اجرله خداي نه لټوو ، هركارچي موږته وسپارلي شي بايد په اخلاص سره هغه ترسره كړو

هغه تحقيرنكړو اوهغه ستره وظيفه وگڼو، مقدس كاريي وگڼو اوپه اخلاص سره دهغه دترسره كولو كوښش وكړو، دلته موږڅه حداقل مكلفيتونه لروچي كه هغه مراعات نكړونو بياموږخيانت كړي. نه مكلف شوي يي چي په اتويجويه دفترته حاضريږي ، په اوه نيمو بجو به دفترته حاضريږي اويه يوه نيمي بجي به دفترپريږدي تاتعهدكړي، داله حزب سره ستاقرار داددي ، داحزب اوستا ترمنځ يوتعهداوپيمان دي ، ميثاق دي، نه چي كوم معاش اخلي، ددغه كاريه بدله كي دامكلفيت دي قبول كړي چي په اوه نيموبجو به دفترته حاضريږي او په يوه نيمه بجه به دفترپريږدي داحداقل كاردي ! لازمه خو داوه چي نه ترهغه وخته په كار مصروف واي چي كاروي ، هلته دي دفترپريښودلاي چي نورهيڅ كارنه وي پاتي ، بيا كورته تللي .

هلته هم بايدوركارنه واي. تاخوله خداي سره دهمدي تعهد كړي، چي هرڅه دي په خداي خرڅ كړي. اماڅه نه دحاضري په وخت دفترته حاضريږي اوبيامخكي درسمي وخت دپاي نه رسيدونه دفترپريږدي اوپه دي باب دضوابطو اومقرراتو هيڅ خيال نه ساتي اوسره لدي نه چي ځوك ستا دحاضري خانه بندوي ، بيا نوشكوه وشكايت اواعتراض كوي، پدي خبره استنادكوي چي دلته دسابقه دارو ورونو خيال نه كيږي، مراعات يي نه كيږي ، دلته خلك تحقيركيږي، توهين كيږي، بيانوسفارش وي ، شفاعت وي، واسطي وي اوداخو پريږده بيا شكوه و شكايت اواعتراض وي.

ورونوا دايومسلمان مامورسره نه ښايي ديومتعهد انسان سره نه ښايي

زموږ انتظار او توقع له دغو ماموريېنو نه ترديته ډيره ستره او اوچته ده .

له حزب سره به ديومستخدم اواجيرپه شكل معامله نكوي داحزب موږ غوره كړي ددي لپاره چي دازموږ دقرباني سنگروي اودلته دخداي په لاره كي قرباني وركړو.

ددي تقاضا داهم وي چي موږ

> موږ دالله دحزب غړي يواودهغه دجندسپاهيان اوعسكر،تعهد موله خداي سره دي اودخپل ديني اوشرعي فرض اداكولولپاره چي دخداي په لاركي جهاد - داعلي كلمة الله لپاره جهاد امربالمعروف نهي عن المنكر دشراوفساد دقوتونو مقابله اوپه ځمكي كي دالله ددين قائيمول ،دهغه كلمه لوړول ،ددي تعهد له خداي سره لرو پدي خاطر دي صف ته راغلي يواودلته موتعهد كړي .

په دحزب ديوفرديه حيث هم اطاعت لرو داواجب دي . مخكي چي مولوي صاحب كوم حديث مبارك ترجمه كړ هغايه مو اوريدلي وي .

چاچي دخپل امير او مافوق اطاعت وكړ گويا چي دپيامبر اطاعت يي وكړ او چاچي دپيامبر اطاعت وكړ دخداي اطاعت يي كړي او الله موږ ته امركوي چي دخپل امير اطاعت په كوو خپل مافوق آمر اومامور اطاعت به كوو. داالهي واجب دي، دازموږشرعي مسئوليت دي ، صحيح ده برابري او وروري به پالو، خو له احترام او اطاعت سره ، دلته مافوق اومادون به دي حيث ندي مطرح چي داترپل نه برتري او امتياز لري ، نه ! دلته وروري ده ، دلته برابري ده ، دلته تعلقات دوروري او دبرابري دي، خوكشريه دمشراحترام كوي! او دهغه په اطاعت كوي. دلته به مامورخپل امر اطاعت كوي، دلته به مجاهد دخپل قوماندان اطاعت كوي او دااطاعت هم پدي اساس چي خداي مكلف كړي يي ، دايوه ديني وجيبه ده . حضرت عمر(رض) فرمائي ( لاجماعة الاامير) داميرنه پرته جماعت هيڅ معني نلري .

( ولاامير بلا اطاعة ) او داطاعت نه پرته اميرمعني نلري .

چيرته چي اطاعت نه وي داميراودمامورمعني څه شوه ؟!

جماعت هلته جوړيداي شي چي هلته اميروي اوهلته بيا اطاعت وي ، ځيني مغرور كسان چي ددي دعوالري سابقه داردي ، اته ځلويښتم كي اوياله هغه نه هم دمخه يي له حزب سره تعهد كړي خو هغه هميشه دبي نظمي باعث وي نو حزب كي چي ځوك اطاعت نكوي اوسركشي كوي دي يي موجب وي، دغسي مغرور سابقه داران چي دبدنظمي باعث وي، سركشي كوي، دنهضت او دتحريك اودحزب په درد نخوري دسابقه داري تقاضا خو داوه چي ترنورلو نه زيات يي اطاعت درلوداي، ترنورلونه زيات هغه دضوابطو اودمقرراتو اطاعت كولاي ، نه داچي سابقه داري شي په ځان كي غرور راپيدا

> بدخلقه مامور دتحريك لوي دښمن دي ، هغه چي له مهاجرينو سره له غرور اوتكبرنه برخوردكوي ، بدخلقي كوي اوهغه دحزب نه بيزاره كوي اوشړي يي هغه ددي حزب لوي دښمن دي موږ هيچاته حق نه وركوو چي هغه دي دحزب ديوماموريه حيث دمراجعينو سره بدخلقي وكړي .

كړي ، سركشي اوعصيان اوهغه بدنظمي ته سوق كړي .

ورونوا موږپه دي دفترونوكي دخلكو دخدمت لپاره گومارل شوي يو، دمجاهد دخدمت لپاره ، دمهاجر د خدمت لپاره دعامو مراجعينواو دولس دخدمت لپاره او دلته مامور دخلكو آقا اويا دار ندي چي په خلكويه حكومت كوي ، مامور امير اورئيس بقوم خادم دي ، هغه په دفتر كي مامورشوي ، چي كونډي ، يتيم ، مهاجر ، دمجروح مجاهد اوپه سنگركي دبرتومجاهدينو، دربدر وآواره ومحتاجو مهاجرينو خدمت به كوي. چي ځوك هم دهغه دفترته مراجعه كوي. كوشش به كوي

چي دهغه غوښتنو ته ځواب ووايي ، دهغه مشكلات حل كړي ، دهغه پرسرپترحم لاس راكش كړي، دهغه دلجوئي وكړي .

كه هيڅ نشي كولاي ، علي الاقل هغه رهنمائي كړي تسلي وركړي ، هغه ته به صبراو استقامت توصيه وكړي .

اوپه دي ترتيب دهغه تشويش او اضطراب رفع كړي. هغه محتاج دي ديوي ښې خبري اوريدوته ، له دفترنه هغه يوه ښه خاطره له ځان سره يوسي ، يوه ښه خبره واوري ، بد خلقي اوايمان له يوبل سره تكرخوري ايمان دانسان نه صالح كس جوړوي ، چي ښه اخلاق يي ، دبل سره معامله ، نيك او غوره وي ، بدخلقه ماموردتحريك لوي دښمن دي هغه چي له مهاجرينو سره له غرور

اوتكبرنه برخوردكوي، بدخلقي كوي اوهغه دحزب نه بيزاره كوي اوشړي يي هغه ددي حزب لوي دښمن دي موږ هيچانه حق نه وركووچي هغه ددي حزب ديوماموريه حيث دمراجعينو سره بدخلقي وكړي . هغه دي سپك كړي، تحقير دي كړي. همداراز له مراجعينونه زموږ توقع داده چي دلته به په خپل حق قناعت كوي چي څه نه وي صبر به كوي اوپه زور او فشارسره به دڅه دترلاسه كولو كوشش نه كوي. له ماموريه هم زموږ تقاضا داده چي له مراجعينو سره به بدخلقي نكوي .

دحزب دټولو ماموريېنو او دحزب دټولومتعهدوغړونه زموږتقاضا او دحزب تقاضاداده چي هغه دحزب درسمي فيصلوترشاودريږي ، دهغه ملاتړيه كوي ، له هغه نه به دفاع كوي، ځوك چي دهغه په خلاف څه وايي هغه به قانع كوي او دهغه دتبليغاتو مخنيوي به كوي .

كه څه هم دارسمي فيصله دهغه دشخصي نظرخلاف وي. دازموږ تعهددي . خپلومنځونوكي موږيدي تعهدكړيدي. چي درسمي مراجعونه دضوابطو سره سمه كومه فيصله صادره شي هغه دحزب دفردفرد فيصله ده . موږمركزي شورالرو اجرائيه شورالرو ، په هرږياست كي شوراگاني لرو ، په هره جبهه كي شوراگاني لرو، داتصميم نيولوقانوني مراجع دي . ددغومراجعونه چي كومه فيصله صادريږي ، دحزب فردفرد مكلف دي چي دهغه ترشابه ودريږي . ځوك دشورا غړي دي خپل نظريه شوراكي په جرئت سره ويلي شي ، خو په مركزي شوراكي چي په اكثريت توافق كومه فيصله صادره شوه بياهغه ددي حق نلري چي په بهركي خپل نظرتبليغ كړي. پادخپل نظرنه دفاع وكړي . پادرسمي فيصلي نه مخالفت وكړي، دهغه په خلاف استدلال وكړي . بيا به موږ ددي رسمي فيصلوترشا ودريږو. لدي نه پرته حزب هيڅ معني نلري . په حزب كي اوسيدل هيڅ معني نلري ، بيا حزب دغسي دي لكه يوهوټل ، لكه

يومارکيټ ، لكه په يوريل كي سفر. بيا حزب هيڅ معني نلري .

هغه ورونه چي پدي خاطر دحزب دفيصلومخالفت كوي اوپه بهركي تبليغات كوي چي ثابته كړي صاحب دراي دي ، صاحب د نظردي اواستقلال لري اوجرئت لري، ددي پروا نلري چي ځوك به له هغه نه تپوس وكړي ، دابي باكي ده دابي ځايه جرئت دي. دانه داخلاص تقاضاده اونه هم دا دصاحب راي سره ښايي . كه ځوك غواړي چي حزب منحيث الحزب باتي شي او په حزب كي ديومتعهد فرد په حيث ژوندكول غواړي ، له دغسي حركاتو، تبصرو او تحليلونونه ډډه كوي چي په حزب كي داختلافاتو

(پاتي)

# ارشادنبوي

از ابودردا (رض) روایت است که گفت: فرموده، پیامبرخدا(ج) صلی الله علیه وسلم.
آیا خبرندهم شما را به چیزي برتراز مرتبه روزه، صدقه ونماز؟ گفت ابودردا (رض) گفتیم بلي (خبر دهید مارا). پیامبر(ص) فرمود: اصلاح ذات البین.
چه، فسادذات البین، زداینده نیکونیهاست.
مشکواة

## داسلامي انقلاب دبریالیتوب په خاطر باید هرې...

دا ددې په خاطر نه دي چې ګواکې دامریکا، روس، فرانسې او انګلستان دکویت په مسلمانانو زړه خوږیږي، دهغوي په محکومیت دردمند شوي او آزادي یې ورته ډیره ګرانه ده، نومرسته یې کوي اوصدام ډیته مجبوروي چې له اشغالګرۍ نه لاس واخلي. نه هیڅکله نه. که داسې واي نو داسرائیلو برخلاف یې ولې غږ اوچت نه شو، اقتصادي بندیزونه یې اعلان نه کړل، هغه خو هم فلسطیني اولس له خپلو حقه حقوقو نه محروم کړي دمسلمانانو لومړنۍ قبله یې اشغال کړي ده؟ هغه خو یې ځای ددې چې محکوم کړي، پرشایې ټپوي وسله اوپیسې ورکوي.

لنډه داچې کفري ځواکونه داسلام دښمنان دي چیرته هم چې دنوك ځاي پیداکړي سوك ځايوي، نوزموږ پروړاندې هم دهغوي دخصمانه دریځ نه ګیله پکارنه ده، دهغوي همدا کاردي، کوي به یې، اصل کاریږ موږ پورې تړلي چې څه وکړو. زموږ عمده مشکل اودبریالیتوب څنډبدل زموږله خپلوداخلو جنجالو اوپې اتفاقۍ نه راولاړ شوي خصوصاً اوس چې دخلیج ستونزه هم پیښه شوي نو زموږ مشکلات به نورهم زیات ښي، په اقتصادي لحاظ به له ستونزوسره مخامخ شوځکه چې اکثر عربي هیوادونه اواسلامي نړۍ اوس له خپل غم سره ککړه شوه.

پدې حساس وخت کې چې ختیزاولویدیز استعماري ځواکونه داسلام په وړاندې سره یوشوي، په خلیج کې نوې ستونزې راولاړې شوي، روس اوامریکا زموږدبریالیتوب په وړاندې خنډونه ایجادوي نوموږته خصوصاً زموږدجهادمشرانو ته پکاربه چې پخپلو دریځونو کې له سره نظروکړي پو دپل په وړاندې له نړمۍ اواسلامي چلندنه کار واخلي، له بیځایه تورلګولو نه ډډه وکړي.

یوله بل سره کښېني دستونزې دحل دپیداکولو په جهت کې زیاروباسې. دخداي په خاطر او زموږ دمظلوم اوځپل شوي اولس دخلاصون لپاره، دبیتیمانو اوکونډو داوښکو پاکولو په غرض څه تیرېدنه وکړي،قرباني نه چمتوشي له عفوې او ګذشت نه کار واخلي، یودریځ او موقف غوره کړي، همدا زموږ دبریالیتوب رازدي اوکنه نو خداي خبرچې هدف ته درسیدو مزل به موځومره اوږدیږي.

اوس چې زموږ دجهاد مشرانو دقوي اوغښتلي اتحاد لپاره څه خبري اترې رواني کړي، یو له بل سره یې ناسته ولاړه پیل کړېدي کاریوځل بیا زموږ په خلکو کې هیلې اوامیدونه پیداکړي، په څېروکې یې دخوښۍ آثار راڅرګندشوي، دخپلو دولس کلنو قربانیو بریاووته هیله من ښکاري، خداي (ج) دې وکړي چې زموږ مشران زموږ دولس دغه هیلې ناهیلي نه کړي، یوله بل سره په ټینګ عزم او پوره اخلاص ایماني تعهد وکړي، داسلام خیر وسنجوي، داسلام اومسلمانانو دخیر او ګټو په خاطر قرباني ورکړي، له تیروترخو تجربو نه په استفاده سره داسې منشور رامنځته اوتعهد پرې وکړي چې دبیا ماتولو امکان یې ډیر لږ اویابیخي نه وي.

ددې ترڅنګ ځنګ مجاهدین اومهاجرین باید یوبل ته داسلامي وروروولي لاس ورکړي، له بیځایه پروپاګنډاو تخریب څخه ډډه وکړي، داسلام په خاطرهرې قرباني ته تیاروي، دچوکې اومنصب مینه یې ډیته ونه هڅوي چې د اسلام اومسلمانانو دګټو په خلاف قدم اوچت کړي. همدا کاربه انشاء الله زموږ دبریالیتوب سبب وي، خداي دې موږته توفیق راکړي چې پدې لارکې خپل ټول توان په کارواچوو او داسلامي حکومت دجوړیدوپه خاطر ایماني تعهد وکړو. امین یارب العلمین

# امریکایي پوځونه به دامنیت له ضمانت پرته له خلیج نه ونه وزي

هلسینکي: دامریکا جمهوررئیس بش اودروسې جمهوررئیس ګورباچوف ویلي چې دخلیج ستونزه به په سوله حل کیږي خوکه اقتصادي بندیزونوڅه نتیجه ورنکړه نو بیا به په نورو اقداماتو غور کیږي، دغوي دواړو ګډې اعلامیې په ترڅ کې وویل چې موږ دعراق یرغل نشو زغملای. جمهور رئیس بش وویل امریکایي پوځونه به ترهغه پورې په خلیج کې پاتې وي ترڅو دامنیت ضمانت نه وي ترلاسه شوي اودملګروملتو پریکړې نه وي عملي شوي. دیوه بل خبر له مخې ګورباچوف وویل چې که عراق له یرغل ګرې نه لاس وانه خلي نوبه بوازې ددغه سیمې بلکې دټولې دنیا لپاره به بې نتائیج ښه نه وي.

که څه هم بش له ګورباچوف نه وغوښتل چې له عراق نه خپل ټول مشاورین وباسي خو ګورباچوف وویل چې دتړونونو له مخې به داکاروښتې کولوي خوشمیربه یې کم کړي.

# ایران اوعراق یوله بل سره سیاسي اړیکې ټینګوي

تهران: دایران اوعراق له اته کلنې جګړې وروسته لومړي ځل لپاره دعراق دبهرنیو چاروزیر ایران ته سفر وکړ او دایراني مقاماتو سره دخپل منځي اړیکو د ټینګولو لپاره خبرې اترې وکړې په دغه خبرواترو کې چې دواړو هیوادونو له اوږده جنګ وروسته کیږي دخلیج پر موضوع سربیره دخپلوداخلي ستونزو دحل کولو او دواړو هیوادو ترمنځ دسیاسي روابطو دټینګولو لپاره اوږده مذاکرات وشول دواړوخواوو دښه ګاونډیتوب او امن لپاره دپوره عزم څرګندونه کړې، دواړه هیوادونه دجنګي بندیانو دخلاصون لپاره پرېوتې کړې کمیټې راضي شوي.

اوهیله یې څرګنده کړې چې په نږدې راتلونکې کې به دواړه هیوادونه سیاسي اړیکې ټینګوي.

## برادرامین الله به شهادت رسید

باتاسف اطلاع یافتیم که برادر امین الله مشهور به داکتر مینا مسئول ګروپ شهیدانجنیر عبدالباقي ازطرف منافقین بي رحمانه بشهادت رسید انالله وانااليه راجعون.

برادر امین الله ۲٤ سال قبل دریك خانواده متدین درمنطقه کلنګار ولایت لوګر چشم به جهان کشوده بابوقع پیوستن کوچنای تنګین نور به جهاد مسلحانه آغاز نمود درمدت ده سال جهادمسلحانه درعملیات های نظامي نقش فعال داشت. برادر امین الله شخص حلیم و برده بار بودکه درین اهالي وهمسنګرانش از محبوبیت خاصي برخوردار بود بالاخره دریك توطیه خائنانه منافقین بتاریخ ۲۱ سرطان ۱۳٦۹ درمنطقه کلنګار ولایت لوګر به شهادت رسید. روحش شاد، یادش ګرامي باد

## دجنرال ضیاالحق الوتکه په میزایل لګیدلې وه

لندن (ب ب ۍ)
دسې ۱۳۰ پوله الوتکې جوړونکې کمپنې پدې عقیده ده چې دجنرال ضیاء الحق دسپرلۍ الوتکه چې د ۱۹۸۸ کال داګست په میاشت کې په بهاولپور کې راولویده اوجنرال ضیاءالحق په شمول څو جنرالانو ووژل شول په میزائیل لګیدلې وه دکمپنۍ مسئولین پدې عقیده دي چې که څه هم په لومړیو ورځو کې اکثرو داسې فکر کاوه چې الوتکه د چاودنکو موادو وواسطه منفجره شوي، اوس شواهد او اطلاعات داسې څرګندوي چې دغه الوتکه په میزائیل لګیدلې، ځکه چې الوتکه دلاك هید په اساس چې الوتکه کنټرولوي، په فني پول جوړه وه.

# ۲۰ نفردرناآرامي پنجاب هند بقتل رسید

دهلي جدید – ۱۷ سنبله:
طبق آژانس خبري هند، روزجمعه پنج نفر ملیشاهاي سك، بعداز کشته شدن پانزده نفر در ناآرامي هاي شب آنروز بقتل رسیدند.

ګزارش علاوه میکند، جنګ شدیدي بامبادل آتش تفنګ درمنطقه امرتسر ایالت پنجاب حین حمله دسته جمعي ومسلحانه پولیس محافظ به پناه ګاه هاي ملیشا ها درقرا وقصبات آغاز ګردید.

درین برخورد چهارنفر افراد ارشد ویکنفر ماموریولیس ازبین رفتند درحدود پانزده نفردیګر درناآرامي ها وبرخوردهاي متعدد سکها کشته شدند.

# لوکانو با اوزال ملاقات مي کند

انقره – ۱٦ سنبله:
منابع خبري ګزارش داده اند، اندري لوکانو صدراعظم بلغاریا دراواخر هفته جاري با ترګت اوزال رئیس جمهورترکیه ملاقات مینماید.

ګفته میشود این اولین دیدار طرفین بعداز انتخابات آزاد بلغاریا درماه جون مي باشد مقامات رسمي ترکیه خبرمذکور را تائید نموده اند.

# دصدام حسین دوژلو سازش ناکام شو

بن: دالمان غږراډیو خبرورکړې چې د سعودي خبري آژانس دکویت دراډیو له قوله ویلي چې دري تنه عراقیان دصدام حسین دوژلو دسازش په تور اعدام کړي شول، راډیو وایي چې دادرې واړه عراقیان دصدام حسین امنیتي سانونکي وو آژانس ددغه خبر تفصیل نه دي خپورکړي اونه یې ویلي چې دا پیښه کله اوپه کوم ځاي کې رشوه، خو دا باید په یادولرو چې پرکویت باندې دعراق له یرغل وروسته مصري اخبارونو ادعاکړې وه چې ځیني کسانو دصدام دتختي دنسکورولو اقدام کړي وچې وروسته اعدام کړي شوه.

دیوبل خبرله مخې زیات عراقي پوځیان چې دکویت له اشغال سره مخالف دي سعودي ته تښتي، تراوسه پورې تقریباً ۸۰۰ سره عراقي پوځیان سعودي ته اوښتلي دي.

ګوشه یی ازامتحان کانکوردرلیسه سید جمال الدین افغاني

شهادت
بیانګرعقاید وآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
موسس: انجنیر حکمتیار
صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان
ناشر: ریاست ارشاد وفرهنګ
سال تاسیس: ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظرهیئت تحریر

# په جامعه صدیقة العلوم کې انتخابي غونډه جوړه شوه

دارسیدلي رپوټ سره سم دوې به پنځه بجه دوشنبې په ورځ دمازدیګر په پښوبجوردجامعه عربیه حدیقة العلوم طلبه ؤ له خوا یوه عظیم الشانه انتخابي غونډه جوړه شوي وه.

دغونډې په پیل کې ورور قاري سبحان الله دقرآن عظیم الشان څو آیاتونه ولوستل ودروسته ورورقاري حفیظ الله حامد دشرق اوعرب دوسایسو په کله اوزښتناکه ویناا اوږیدونکو ته واوړوله اودافغانستان دروانو حالاتو نه ئې خبرکړل.

په اخر کې انتخابات پیل او په لاندې دول اعلان شول.
۱– ورور قاري حفیظ الله دحلقې دناظم په توګه.
۲. وروسید نجیب الله دحلقې دمعاون په توګه.
۳. ورور محمدهمایون دمالي مسئول په توګه.
٤. وروزمحمدنادر دفرهنګي مسئول په توګه.
۵– ورور سبحان الله دنشر او اشاعت دمسئول په توګه.

په پای کې غونډه دورور محمدهمایون حنفي داختتامیه دعا به کولو سره دمابام په اوریځو پای ته ورسیده.

* * *

## یکنفربه اثرانفجار

سوختند واکت مقابله کرد بهتر آنست که ګذاشته شود تابسوزد.

ساکنین حوالي آزمایشګاه متوحش شده بودند، مجروحین جهت درمان وتداوي به شفاخانه انتقال داده شدند.

یك افسرنظامي اظهار نموده، ازجمله آسیب دیدګان نه نفربه اثرسوختن مواد کیمیاوي شدیداً جراحت برداشته بودند اشك شان جاري بود وحین تنفس ازبدن شان دود خارج مي شد اما هویت مرده ومجروحین را افشا نکرد بعداز ظهر آنروز درحدود پنجاه نفر مامورین اطفائیه وپولیس نیروي هوایي درمحل حادثه مصروف کاربودند.

نیروي هوایي مقررات منع عبور ومرور را نافذ نمود، ګفته میشودکه این حادثه براي اهالي منطقه نهایت خطرناك میباشد.

ساکنین همجوارمدتي دود غلیظي رامشاهده نمودند که لحظه به لحظه درحال افزایش بودوبطرف آسمان بالامیرفت.

## ابوالعباس ازصدام حسین حمایت مي کند

واشنګتن ۱۹ سنبله
روز یك شنبه ابوالعباس افراطي فلسطیني حین مصاحبه بایکتن خبرنګار اظهارنموده که وي از صدام حسین رهبر عراق وروش وي باعراب حمایت مي نماید.

رهبرفلسطیني افزود ما کاملاً ازوي درجنګ سراسري عرب حمایت مي نمائیم.

او همچنان افزود، وي امکانات رهبري حملات تروریستي راعلیه اهداف امریکایي بدوش مي ګیرد درصورتیکه امریکا از مقابله درخلیج خود داري نماید.

## مصارف عساکر

ریس ملامات حضورداشت.

یك منبع رسمي سعودي اظهارنموده وي مبین است که آمریکا درمورد آنچه سعودي میخواهد انجام دهد ناراضي نخواهد بود.

هکذا یك مقام بلندپایه ایالات متحده ګفته است، عربستان سعودي بصورت آشکارا موافقه نموده که مصارف آب، سوخت، حمل ونقل ودیګر مخارج عساکر امریکائي را پرداخت نماید. وي روشن ننمودکه سعودي درین مورد چه مقدار پول پرداخت نموده است.

ګزارش علاوه مي کند بیګر ګفته است که مخارج عملیات آمریکا تحت عنوان حمایت صحرا تا اخیرسال جاري درحدود شش بلیون دالر میرسد.

همچنان امیرکویت نیز تعهدنموده که مبلغ پنج ملیون دالر روي همین منظور پرداخت نماید.

هکذا ابوظبي نیز یك مقدار مصارف ارتش امریکائي مستقر درسعودي را متحمل شده است.

## جنګ درکشمیر

یره حملات شبانه انجام دادند

درمنطقه بارا مولا جنګجویان آزادیخواه در جوار قریه پونشاهي بندي پوره علیه ګروپ ګزمه بم دستي استعمال نموده آتش ګشودند اما یکسي آسیب نرسید.

راپورمیافزاید، ساختمان دفتر تحقیقات زراعتي به اثر انفجاربم ویران ګردیده و همچنان انفجار دیګري درعقب پایګاه پولیس کاراك هود درمنطقه هاباك کامراډان درسیرینګر رخداده است. ضمناً اجساد چندین مرده که هویت بعضي ازآنها شناخته نشده یافت ګردیده است ګفته میشود که این اشخاص حین تبادل آتش ازبین رفته باشند.

## دفاتحې اعلان

ټولو مهاجرینو، مجاهدینو او انصارو ورور ته خبر ورکول کیږي چې دمولوي صاحب ګل رحمن دیوبندي دلسیانو، دافغان نیوز ایجنسي دمسئول استاد قریب الرحمن سعید د ورورو اود داکټر خلیل الرحمن رحماني دلور اوزوې دشهادت له امله چې جنازه یخوا خاوروته سپارل شوي د پنجشنبې په ورځ دوري په ۲۲ مه نیټه فاتحه اخستل کیږي، هیله ده چې په خپل ګډون سره دشهیدانو روح خوشحاله کړي.
پته: کوهاټ روډ، سول کوارټر، ګل افغان کالونې دمولوي صاحب ګل رحمن دیوبندي کور.

## انتخاباتي غونډه جوړه شوه

دروان کال دورې دمیاشتي په اتلسمه نیټه دپیښور داریاب لنډې داسلامي علومو دجامعې له خوا انتخاباتي غونډه جوړه شوه.

نوموړې غونډه چې دیکشنبې ورځې په دوو بجوجوړه شوې وه دقاري صاحب غلام سخي له خوادقرآن عظیم الشان دځومبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه وروسته دحزب اسلامي افغانستان ددیني تنظیم طلبه دمرکزي حوزې مسئول ورور محمدطاهر(حقیار) خپله وینا برخه والو ته واوروله او خوانان یې خپلو جهادي اوتاریخي دندو ته متوجه کړل.

خبرځاي زیاته کړه چې دانتخاباتو نه وروسته ورور قاري محمدخلیل دناظم په حیث او ورور قاري محمداسمعیل دمعاون په توګه دټولو طلباوو په رایه منتخب شول.

نوموړې غونډه د وروزخان ملك کانوال له خوا په دعائیې سره دمازدیګر په څلورنیمو بجو پای ته ورسیده.

## اعلان

پوهنتون دعوت وجهاد دررشته هاي فزیك، کیمیا، ریاضیات، بیالوژي، جغرافیه، پشتو، دري، انګلیسي، رسم تخنیکي، دیزاین، تعمیرات، کمپیوتر، تاریخ، پلانګذاري، مهندسي وجمیع رشته هاي طب به استادان ورزیده که داراي شهادت نامه هاي ماستري، داکتري ویاتخصص باشند ضرورت دارد.

کاندیدانیکه داراي شرایط فوق باشند ومیخواهند درین پوهنتون تدریس نمایند بااسناددست داشته شان به پوهنتون مراجعه نمایند.

آدرس: معاونیت علمي پوهنتون دعوت وجهاد کمپ جلوزي، چراټ روډ هجرت کلي.

پوست بکس: (۱۰۰۲۸)
یونیورسټي ټاون پښاور
تلفن نمبر ٦۳۷۸۹ – 30224 پښاور

## اطلاعیه جهاد پوهنتون

قراربود درس هاي پوهنځي هاي شرعیات، طب، تعلیم وتربیه، زراعت وانجنیري جهاد پوهنتون به تاریخ ۱۵ سنبله آغاز ګردد، مګر بنابر معاذیري سال تعلیمي به تعویق افتاد وانشاء الله درس ها به تاریخ اول میزان در پوهنتون (ورسك) آغاز میګردد. برادر انیکه از مناطق دور دست آمده باشند، تسهیلات لیلیه براي ایشان مهیا ګردیده است.

## تبدیلي نام

قرار مکتوب (۳۲۳) ۱۰ر٦ر٦۹ قوماندانې لشکر ایثار مجاهدین قوماندانې مذکور اسماي خویش را ذیلاً تبدیل نموده اند.
۱. هرب جان ولد دوست محمدساکن قریه سروج ولسوالي شیوه ولایت ننګرهاراسم خودرابه فضل الرحمن تبدیل نموده است.
۲– شمس ګل ولد نوراحمد خان ساکن ولسوالي اسمار ولایت کنړها فعلاً شاګرد لیسه النصر اسم خود را به ذبیح الله تبدیل نموده است
۳– منګل ولد محمد آصف ساکن ولسوالي قرغه ئي ولایت لغمان اسم خویش را به حفیظ الله تبدیل نموده است.
٤– برادر اولمیر ولد میانورساکن ولسوالي وزي ولایت پکتیا اسم خودرا به شفیق الله تبدیل نموده است.
۵– قوماندان ولدلعل پادشاه ساکن ولسوالي هسکه مینه ولایت ننګرهار اسم خودرا به محمدعثمان تبدیل نموده است
٦– قندي داروله محمد رحیم ساکن ولسوالي ده بالاي ولایت ننګرهار اسم خودرا به مزمل تبدیل نموده است.
۷– محمدعظیم ولد پاینده محمدساکن ولسوالي خوګیاني ولایت ننګرهار اسم

(ص ۵)

## طوفان شدیددرفلیپین

مانیلا – ۱۹ سنبله:
به اثر طوفان شدید در بخش شمالي ومرکزي لوزون ومترو مانیلا حداقل چهارنفر کشته و (٦۵ ٤۸۰) نفر که درحدود سیزده هزار فامیل میرسد آسیب دیده اند.

این نهمین طوفان درسال جاري است که در فلپین رخ میدهد.

ګفته میشودکه این کشور سالانه بیست بار مورد حمله همچوطوفانها وګردبادهاي موسمي قرار میکرد.

## دنوم بدلول

ګرانوهیوادوالو! څرنګه چې زما اصلي نوم ستوري ومعراج الدین زوي دکابل ولایت دده سبز اوسیدونکی غواړم خپل نوم په میرعاطف بدل کړم هیله کوم لدې وروسته مې دوستان په میرعاطف سره یادکړي.